افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com          www.afgazad.com

| تاریخی | Historical |
|---|---|

قاسم باز

۲۱ جولای ۲۰۱۵

## محمد موسی شفیق څرنګه او د چا په سپارښتنه
## د شهید محمد داوودخان د جمهوریت په دوره کښی د نظارت څخه خلاص شو.؟

په دی یادداښت کی غواړم چی د خپل پلار بازمحمدخان منګل له یوی تاریخی پیښی پلو یا ( پرده ) پورته کړم. زما پلار چی د شهید محمد داوودخان د نژدی او ډیرو باوری دوستانو د جملی څخه و، او دشهید محمد داوودخان د ژوند ډیری کیسی ( قیصی) یی تری پټی نه وی ولی له بده مرغه چی زما پلار ډیری کیسی له ځانه سره تورو خاورو ته وړی دی.

بیا هم راځو دی کیسی ته چی محمد موسی شفیق څرنګه د صدارت د نظارتخانی له بند او نظارت ازاد شو؟ په دی مورد کی غواړم د خپل پلار لیکل شوی کتاب چه نوم یی دی ( دسترګو لیدلی یادداښتونه ) [ له بلی د ارګ تر مانی ] د کتاب چی د افغانستان مشهور تاریخ پوهه او ملی لیکوال ښاغلی شهسوار( سنګروال نیازی ) چه په دری سو اویا ۳۷۰ صفحو کی لیکلی دی د هغه کتاب ځنی مهمی واقعی خپلو ګرانو وطنوالو سره شریکی کړم. دا کیسه او داستان له دی ځایه را شروع کوم.

پیر سید احمد ګیلانی چی د جهاد په وخت کی د محاذ ملی رهبر و، دی د شهید سردار محمد داوودخان د جمهوریت په اولو ورځو کی د کومی تیروتنی له مخی د هاغه وخت د مهال د پولیسو له خوا نظر بند شو.

د تحول نه څو ورځی تیری شوی وی یوه ورځ چی د ماسپښین ( غرمی ) دوی بجی وی زمونږ د کور دروازه و ټکول شوه کله چی می دروازه خلاصه کړه ګورم یو تن سلام واچوه له روغبړ نه پوهه شوم چی نوموړی د سره رود (سرخرود) اوسیدونکی دی نوبیا یی د سره رود ( سرخ رود) په لهجه رانه و پوښتل چی خانصاحب په کور کښی شته ؟ زه پیرصاحب ګیلانی را لیږلی یم، غواړم د هغه پیغام ور ته و رسوم. بیا می پلار ته خبر ورکړو او هغه هم را ته وویل چی مهمانخانی کښی کښینوه زه درځم ، کله چی می پلار اوطاق ته راغی نو د نفر نه یی ویوښتل خیریت دی، مننه زه پیرصاحب رالیږی یم لومړی هغه سلام وایه او بیا یی را غبرګه کړه چی خانصاحب ته ووایه که تکلیف در ته نه وی او مهربانی وکړی یو ځل سره و ګورو..... زه دی د درناوی ته درتلم خو زما کور پولیسو کلابند کړی دی ماته اجازه نشته چی له کوره ووځم.

پلار می نوموړی شخص ته وویل ځه لاړ شه زما سلامونه هم پیر صاحب ته ووایه زه مازدیګر درځم. زما پلار د ډیر پخوا څخه دده سره پیژندل بلکی له هاغه د مشر وررور سید شیراغا سره ډیر نژدی دوستانه اړیکی درلودی او همیشه به دا دوستی د یو بل سره پایله.

پلار می د وعدی سر سم د پیر سید احمد ګیلانی کور ته لاړه او د اوږدو خبرو په لړ کی څرګنده شوه چی دی پخپل کور کی د پولیسو لخوا کلابند( نظربند) دی او حق نلری چی د کوره بهر ووځی.

پولیسو نه یواځې دی له کوره بهر نه پرېښوده بلکې هاغه کسان به چې ده ته راتلل پولیسو به تری پوښتنې کولې، پیر صاحب د خبرو په پای کې زما پلار نه هیله کوی چې دده مشکلات او ستونزی د دولت جمهور رئیس محمد داوودخان ته ورسوی چې زمونږ گناه څه ده چې ستا د واک په مهال زورول کیږو؟.

کله چې پلار می د سردار محمد داوودخان لیدو ته ورځی نو بیا ور ته د پیر سید احمد گیلانی مشکلات پر مخ کی ایږدی، کله چې محمد داوودخان د گیلانی له نظارت نه خبریږی پلار می وویل چې داوودخان په ډیر حیرانتیا راته وویل : زه د گیلانی له نظری بندی هیڅ خبر نه یم دا چې ولی داسی کیږی د خواشینی خبره ده.

سمدلاسه داوودخان د تیلفون غوږی پورته کړه او د کورنیو چارو وزیر چې فیض محمد وه هغه ته یی وویل: دا اوس دستی ډیر ژر کوم پولیس چې تاسی د گیلانی د کور د نظارت لپاره گمارلی دی له هاغه ځایه لری کړی: نور شکایت پورته نشی.

په پای کښی د دولت رئیس محمد داوودخان د کورنیو چارو وزیر فیض محمد ته بیا ور غبرگه کړه مونږ چې کوم تحول راوستی دی د خلکو د هوساینی او خوشحالی لپاره نه دا چې مونږ خلکو ته ستونزی پیدا کړو.

خانصاحب وایی هغه مهال چې پیر گیلانی پوه شو چې نور دته څوک زیان نشوی رسولی، یو ځل بیا یی له مانه د مننی په ترڅ کی یوه بله غوښتنه هم وکړه او هغه هم د خپل ځوی غوښتنه، هغه غوښتنه دا وه، د پیر گیلانی مشر ځوی حامد گیلانی چې په ایران کښی په لوړو زده کړو بوخت وه او د رخصتی لپاره کابل ته راغلی وه د بیرته تگ اجازه ورته امنیتی اورگانونو نه ورکوله، پلار می بیا د حامد گیلانی پاسپورت او تذکره محمد داوودخان ته پر مخکښی ږدی او پلار می داوودخان ته وایی چې اوس امنیتی ارگانونه دا هلک تحصیل ته نه پریږدی او ورته وایی چې اول د خدمت دوره تیره کړه بیا تحصیل وکړه. پداسی حال کی چې محمد داوودخان بیا خواشینی کیږی قلم را اخلی او د حامد گیلانی د پاسپورت په یوه صفحه کی په خپله امضا لیکی ( به شخص محصل اجازه تحصیل داده شود. امضا محمد داوود).

یوه موده وروسته د یوی ملمستیا په ترڅ کښی چې پیر سید احمد گیلانی چې زما د پلار باز محمد خان په ویاړ پخپل کور کی جوړه کړی وه پیر صاحب خپل میلمه ته مخ اړه وی ورته وایی: خانصاحب نه پوهیږم چې په کومه ژبه در نه مننه و کړم تاسو له ما سره ډیره مرسته کړیده خو اوس غواړم چې یوه بله ډیره مهمه خبره درته و کړم چې هغه د هیواد د وخت د صدراعظم موسی شفیق په اړه دی... تاسو پوهیږی چې هغه زما ډیر گران او خوږ دوست دی تاسو نه د تیر په څیر هیله کوم چې د هغه د خوشی کیدو په تړاو سردار ته یو غوږ وهنه و کړی.

خانصاحب یو ځل بیا د خدمت تیّر وهی خانصاحب پیر گیلانی ته وایی چې تاسو کولای شی یوه غرض پانه ماته ولیږی زه به یی سردار ته مخکښی کیږدم.

له ملمستیا وروسته پیر صاحب د منگلو د دود له مخی د خانصاحب میرمنی ته د پیر گیلانی له میرمنی له طرفه یو ټکری ورکوی.

دوه ورځی وروسته محمدهارون شفیق چې د محمد موسی شفیق سکه وروردی او هم په ضمن کی د عبدالمجید باز د محمد داوود خان سریاور ملگری او دوست دی د پیر سید احمد گیلانی په سپارښتنه غرض پانه بازمحمد خان زما پلار ته سپاری. له دی نیتی نه دری ورځی وروسته خانصاحب پداسی حال کښی چې د محمد موسی شفیق په تړاو عریضه هم ورسره وه د افغانستان جمهور رئیس محمد داوودخان ته په مخ کیږدی کله چې محمدداوودخان عریضه لولی نو بیا زما پلار بازمحمد خان ته وایی. (( بازمحمدخانه! اوس زمونږ د ملگرو وینه ډیره توده ده دوی د محمد موسی شفیق په خوشی کولو کی یوه خوله ندی خو ژمنه ( وعده ) درسره کوم چې ډیر ژر به یی ازاد کړم... تاسو ډاډه اوسی.))

نور بیا- ۱۸/۱۵/۷